د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي ۱٦

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

**د ډېری افغانانو اقتصادي او ټولنیز وضعیت، لا هم مناسب نه دی**

کابل: د ۲۰۰۸ کال د دسمبر دوه ویشتمه

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو په اړه خپل دریيم راپور خپروي. دغه راپور په تیر یونیم کال کې د افغانستان د اتباعو د اقتصادي او ټولنیزو حقونو د تامین په وړاندې د افغانستان د دولت پرمختګونه او ننګوني ارزوي او په هیواد کې د بشري حقونو د پرمختګ او ملاتړ په اړه یو لړ ځانګړي وړاندیزونه، مطرح کوي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سیمه ییزی څارني تیمونو د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان د کمشنرۍ په مرسته د هیواد په ۳٤ ولایتونو کې له ۱۵۰۰۰ څخه زیاتو کسانو سره مرکې وکړی او له هغې نه لاسته راغلي معلومات ددې راپور اصلي سرچینه جوړوي. همدارنګه په دغه راپور کې کیفي موندنې د حکومت، ملګرو ملتونو سازمان او د مدني ټولنې د استازو سره د مرکو پربنسټ راټولې شوي او هڅه شوې، چې دغه ټول مسایل د همدې دریو نظرونو په رڼاکې وڅیړل شي. د یادونې وړده چې زیان لیدونکې ډلې او هغه کسان په لېږې پرتو کلیو الوسیموکې ژوند کوي د ځانګړې پاملرنې وړګرځیدلي دي.

په دغه راپور کې دارزونې معیار، دوه اساسي او قانوني سرچینی دي، یو د افغانستان اساسي قانون او بل د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال تړون چې دا تړون افغانستان په ۱۹۸۳ زیږ دیزکال کې تصویب کړیدې. نور شاخصونه لکه د افغانستان د زرکلنې پرمختیاموخې **(MDGs)** او د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي **(ANDS)** په پامه کې ساتل شویدي.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مشرې اغلې ډاکتر سیما سمر په دې اړه وویل. (( د افغانستان حکومت د افغانستان د خلکو په وړاندې مکلفیت لري چې برسیره پر سیاسي او مدني حقونو، د هغوې اقتصادي او ټولنیز حقونه هم تامین کړي او دروغتیایي وضعیت، ښوونې، د ژوند د مناسبې کچې، ټولنیز خدمتونو او د خلکو د معیشت دښه والي لپاره عملي او اغیزمن قدمونه واخلي.))

په دغه راپور کې د بنسټیزو موندنو لنډیز:

- د بشري حقونو د سیمه ییزې څارنې معلومات څرګندوي چې ۳۷٪ کلیوال سړي په ناپایداره ورځني اجوره یې کار لګیا دي، ۳۰٪ په خپلو ځمکو کې او ۲۰٪ په اجاره یې ځمکو کې کارکوي، په داسی حال کې چې د رسمي احصایې له مخې د افغانستان ۳۳٪ څواکمن نفوس وزګاره دي. د کمیسیون د سیمه ییزې څارنې ارزونې په ډاګه کوي چې د افغانستان د ډیرو خلکود عاید سرچینه چې د بیلا بیلو کاري بوختیاوو څخه لاسته راځي یوازې د ژوندي پاتی کیدو لپاره بسنه کوي.
- په افغانستان کې نا رسمي اقتصاد د عاید او ژوند تیرولومهمه سر چینه ده. له جګړې څخه وروسته وضعیت ددغه ډول اقتصاد دودې لامل ګرځیدلای دی. پرنیشه یي توکو له اقتصاد  څخه جلا ددې مسالې د پراختیا ارزونه ناڅرګنده ده .له دغه ډول اقتصاد څخه  برسیره پردې ،چې مالیه نه اخیستل کیږي، په دغه اقتصاد کې د بوختوکسانو حقونه او هوساینه هم د بشري حقونو له پلوه د اندیښنې وړ ده.
- د کمیسیون د څارنې تیم د اسلام قلعه او زرنج په سرحدونو کې د ۱۱۳۷ له سر حد څخه شړل شویو وضعیت و څیړلو. په اټکل ۸۰٪ له سر حد څخه شړل شوي د ایراني مقاماتو د(( ناوړه او ډیر ناوړه)) چلند سره مخ شوي وو او هغوی ټول اړ وو، چې د سرحد څخه د شړل کیدو ټول لګښتونه پخپله ورکړي.
- په افغانستان کې د کوچنیانو کار دود دی، په کابل ښارکې د کوچنیانو د کار ارزونه څرګندوي، چې په اټکل یو پرڅلورمه برخه کوچنیان چې عمرونه یی له ۷ نه تر ۱٤ کلنو پوری دي . په کارلګیا دي. د کارموده د مجاز وخت څخه په یوه اونۍ کې زیاته ده. د هغوې ډېری او ږده ساعتونه او له ګواښ څخه په ډک چاپیریال کې کارکوي او د ناوړه ګټی اخیستنې، فیزیکي او روغتیایي ګواښ سره مخ دي.
- دغه راپور ښیي ،چې ډیریَ کورنیَ د بې ثباته معیشتي وضعیت سره مخ دي او د بشري حقونو د سیمه ییزی څارنې سره ٦۲٪ مرکه شویو څرګنده کړه ،چې پوروړي دي. که څه هم دغه احصائیه د تیرکال په پرتله دری سلیزه د کمښت ښودنه کوي ،مګر په کمیت او دپور د پیسو په برخه کې زیاتوالی څرګندوي. د بیلګی په توګه د

تیرکال په ارزونه کې د پور منځنې برید ۷۷۱۹۵ افغانۍ وو ،مگر په اوسنیو موندنو کې دغه رقم ۹۰۰۰۲ افغانۍ دی.

- د معلولیت لرونکو کسانو څخه د منصفانه، اغیزمنې مرستې او ټولنیز ملاتړ موضوع څه ناڅه سیاسي شوې ده، چې د همدې امله د هغوی یو زیات شمیر د توپیر (تبعیض) ورګرځیدلي دي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون دریځ دادې چې معلولیت لرونکو کسانو سره مرسته باید د هغوی د معلولیت او اړتیا پربنسټ وي، نه پخوانې او اوسنی سیاسي تړاو.

- په ټیټ عمر کې واده په نامناسب ډول نجونې اغیز منې کوي. په ارزول شویو کورنیو کې ۱٦٦۲ د کوچنیانو و دونه تر سره شوي، له دې شمیرې څخه ۱٤۹٤ (۹۰%) نجونې او ۱٦۸ (۱۰%) هلکان دي.د دې کورنیو ۱۰% وویل چې هغوی خپل کوچنیان مخکې له دې چې ۱٦ کلن شي واده کړي دي. ۵۵% دکوچنیانو ودونه د اقتصادي ستونزو د حل په موخه شوي، ۳۰% یې د بدل په وړاندې وو، چې بیاهم اقتصادي مسایلو سره تړاو لري، ځکه چې په بدل کې د واده لګښت کمیږي.

- د استوګنځی برابرول، د مهاجرینو پراخه ستنیدنه او د ملکیتونو د بیو بې کچه لوړوالی د افغانستان په ښاري سیمو کې د استوګنځي د کړکیچ لامل ګرځیدلي دي. د بشري حقونو سیمه ییزې څارنې سره مرکه شویو دیو شمیر هغه قضیو خبر ورکړی، چې په ناقانونه توګه ملکیتونه لاندې شوي. ۲۰۸ کورنې د نامعلومو کسانو، ۱٤٦ کورنۍ د ځایي خلکو او ۵۱ کورنې د قوماندانانو لخوا له خپلو کورونو شړل شوي دي. او د ۲۰ کورنیو د استوګني ملکیت د دولتي مقامانو لخوا نیول شوي دي، ٦٦ کورینو د خپل ملکیت په اړه ستونزې لرلې ،ځکه چې هغوی د مالکیت د زباد سندونه نلرل.

- د پاملرنې وړکورنې، پرته له دې چې روغتیایي پاکو او بواو روغتیایي شونتیا وې ولري، ژوند کوي. د اوبورسولو د مرکزی اداري په وینا په اټکل ۷۰% ښاري او سیدونکي د څښاک پرخوندي او بولاسرسی نلري. د بشري حقونو د سیمه ییزې څارنې معلومات په ډاګه کوي چې ٤۰% زیان لیدونکي کورنې په ښارونو او ۷۰% زیان لیدونکي کورنې په کلیو کې کورنې اړتیا وو دلېری کول په اړه داوبو پرسر ستونزې لري.

- د بشري حقونو د سیمه ییزې څارنې معلومات څرګندوي چې ۳۷% زیان لیدونکي کسان په ورځ کې له پنځوس افغانیو لږ عایدلري، یوازی ۲۲% یې وویل چې په ورځ کې له پنځوس افغانیو لږڅه ډېرعاید لري، ٤۱% یې دې پوښتنې ته ځواب ورنه کړ، چې ښایی احتمالي د لیلونه داوي چې نه غواړي د خپل ناقانونه عاید په اړه څه ووایي او یا داچې عاید یې نه لرل.

- راستیندونکوته د ښارګوتو جوړول او د ځمکی دویش طرح یولړ زیاتې ستونزې لري. دغه ښارګوتي پرته له دې چې جغرافیایي موقعیتونه یې په پامه کې وساتل شي، رامنځته شویدي، ډیری ښارګوتي بنسټیزنه دي، هغه چې اوبه لري، سړک نلري او هغه چې ښوونځي لري، کلنیک نلري، د لیږداورالیږ د هیڅ ډول عمومي سیستم دغه ښارګوتي له بازارونو سره نه تړي. د ښارمرکز سره د نږدی ښارګوتي منځنې واټن ۱۲ کیلو متره دې چې دهغه مزل په سوځنده اوړي او په سوړ ژمی کې له توانه وتلې ښکاري.

- د بشري حقونو سیمه ییزې څارنې داڅرګندوي چې ۱۵% زیان لیدونکي خلک په ښارونو او ۳۰% خلک په کلیوالو سیمو کې پرهیڅ ډول روغتیایي خدمتونو چې د دولت، نادولتي سازمانونو یا خصوصی برخی لخوا چمتو شوي، لاسبري نه دي. په داسی حال کی چې یوازی ۲۲% د ښارونو خلک او ۲% کلیوال خلک پردغه ټولو خدمتونو لاسرسی لري.

- د ښوونې برخه کې د یولړ برياوو سره سره بیاهم د ټولو خلکو لپاره د ښوونې په برخه کې یو لړستونزې شته دې. د ښوونځیو کمښت او هغه ته نه لاسرسی او نجونو، ښځو او لږه کیو بې برخې کیدل د زیاتې اندیښنې وړموارد دي. ورځ په ورځ زیاتیدونکې ناامني پرښوونه ناوړه اغیزه پریږدي. د راپوروړکولو په دغه پړاوکې افغانستان ،د جګړې په بهیر کې د مخالفو د لو لخواد ښوونځیود تړلو، پرښوونځیو بریدونه او د زده کوونکو او ښوونکو او په تیره بیا د نجونو د ویرولوشاهد دې.

- د ښوونځیو د پرېښودو کچه لوړه ده . یوازي ۱۱% هلکان او ۵% نجونې چې په لومړنیو ښوونځیو خپل نوم ثبتوي خپل لوست تر دولسم ټولګي پای ته رسوي، په داسې حال کې چې شاوخوا۸۲%هلکان او ٦۳% نجونې یوازي تر شپږم ټولګي رسیږي.

په ځو وروستيو کلونو کې پر ښوونځيو د مخالفينو بريدونه زيات شويدي ، په ۲۰۰۷ کال (۱۳۸۵-۱۳۸٦) ۵۵ امنيتي ګواښونه او له ۱۸۰ زيات بريدونه پر ښوونځيو تر سره شوي چې د پوهنې د کارکونکو په ګډون د ۱۰۸ کسانو د وژلو او ۱۵٤ تنو د ټپي کېدو لامل شوی.

د ۲۰۰۸ کال (۱۳۸٦-۱۳۸۷) په لومړيو دريو مياشتو کې پنځه ګواښونه او د پوهنې پر ضد ۲٤ بريدونه شوي چې په هغه کې دوه تنه وژل شويدي.
په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنيزو حقونو دريېم راپورپه هره ځانګړې برخه کې يو لړ مشخص وړانديزونه او ننګونې لړي او برسيره پردې يو لړ ټوليز وړانديزونه لري ،چې د افغانستان حکومت ،د اساسي قانون،د اقتصادي او ټولنيزوحقونو د نړيوال تړون او دځپلو نورو ژمنو پربنسټ بايد د ستونزو د حل له پاره يو لړ اقدامات پلي کړي:

- په افغانستان کې ډېری هغه سېمې چې زيانمنونکې دي او سختې لارې لري د خوراکي توکو د کموالي له ستونزې سره مخ دي ، سږ کال ژمی به د هغوی له پاره له ستونزو ډک وي. دې ته په کتو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون له دولت او نړيوالي ټولنې غواړي ، چې د انساني کړکيچ تر پېښيدو وړاندې دې دغو زيانمنونکو سېموته بشري مرستې ورسوي.

- د افغانستان حکومت بايد ټوليزې پرمختيا ته پاملرنه وکړي او په راپور کې د راغلو وړانديزونو د اجرا په موخه د دولتي او نادولتي اړوند ادارو تر منځ د همغږی د رامنځته کېدو په اړه کاروکړي.

- د افغانستان حکومت بايد د کار قانون په تيره بيا د روزمزدکارګرانو،روغتيا، د کار د خونديتوب د مقرراتو او دکوچنيانو د کار په اړه تطبيق کړي او همدارنګه ټولنيزو خدمتونو ، ښووني او روزنې او روغتياپه برخه کې د ټولو خلکو په تيره بيا ښځو او لرو کيو ته د لاسرسي بې توپيره زمينه چمتو او تطبيق کړي.
- د افغانستان حکومت بايد مدني قانون چې په ځينو برخو کې د افغانستان له اساسي قانون او نورو نړيوالو معيارونو سره توپيره ولري اصلاح کړي ، د بلوغ او واده د عمر توپير د انديښنې وړ دی او اړينه ده چې د کورنی قانون په سمه توګه د واده د چارود ښه تنظيم په منظور د طلاق د بهير د روښانتيا، د شکايتونو او کورني تاوتريخوالي د مخنيو ي او د ښځو حقونو څخه د ملاتړ له پاره طرح او تطبيق کړي.

- ټولنيزخدمتونه او تامينات، د اقتصادي او ټولنيز حقونو په تامين کې بنسټيزه مساله ده . د افغانستان حکومت بايد د اتباعو د ملکيتونوپه ساتنه ، د مهاجرو او کورني بې ځايه شويو پتمنې راستندني، د بنسټيزو خدمتونو پراختيا ، او يو لړ تاسيساتو لکه د زيږيدنې ، واده ،طلاق د ثبت د هويت پاڼې د صادرولود رامنځته کېدو او د روغتيايي او ښوونيزو خدمتونو د وړاندې کولو په خاطر اغيزمن ګامونه پورته او عملي کړي .

- دمهاجرو کارګرو د ملاتړ له پاره د افغانستان حکومت بايد د ايران له حکومت او نورو هيوادونو سره خپلو اړيکو او مرستو ته ټينګښت ورکړي اوهمدارنګه د جنسيتي برابری او ښځو ته د مساويانه خدمتونو په چمتو کولو کې پاملرنه وکړي .
- د افغانستان حکومت بايد د غذايي نا امني د مسالي د حل له پاره يوه اوږدمهاله ستراتيژي ولري ، دغه ستراتيژي بايد د کليو الو سيمو د بنسټيزې بيا رغاونې او ټينګښت ،د پانګوې زياتوالی په تيره بيا کليوالو سيمو کې او زيان ليدونکو خلکو ته د غذايي مرستو په ګډون وي.
- د افغانستان حکومت د ملي اونړيوالو ځواکونو سره په همغږئ کې بايد داسې اغيزمن او ټوليز کاردودونه ولټوي چې د هغې په مرسته د ښوونيزو مرکزونو او روغتيايي تاسيساتو امنيت په غوره توګه تامين شي.

دغه راپور د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون په ويپاڼه **www.aihrcd.org.af**
کې په دري ،پښتو او اوانګليسي ژبو موندلای شئ.
د زياتو معلوماتو له پاره له دغو شمېرو سره اړيکه ټينګه کړئ.
۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰٦۷٦ -۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰٦۷۷-۰۰۹۳۷۰۰۲۷٦۷۸٤
**Email; aihrc@aihrc.org.af**